لوګر پوهنتون

علمي او محصلان چارو معاونیت

ښوونې او روزنې پوهنځی

کیمیا څانګه

# د محصلینو لارښود کتاب

ترتیب کوونکي: محمد فلاح سلطانی او عزیز محمد کاکر



د لوړو زده کړو وزارت
لوګر پوهنتون
علمي او محصلانو چارو معاونیت
ښوونې او روزنې پوهنځی
دیپارتمنت کېمیا څانګه

د کیمیا څانګې د محصلینو د لارښود کتاب د څانګې په ۸ مه پروتوکول او ۰۷/۱۰/۱۴۰۴ نېټې د څانګې د جلساتو په کتاب کې ثبت او تأیید شوی دی.

د کیمیا څانګې آمر

نوماند پوهنیار محمد فلاح سلطانی

امضاء (                    )

---

د کیمیا څانګې د محصلینو د لارښود کتاب د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي شورا په ۸ مه پروتوکول کې د ۲۲/۰۸/۱۴۰۴ نېټې ثبت او تأیید شوی دی.

د ښوونې او روزنې پوهنځي

پوهنمل ابراهیم نوری

امضاء (                    )

## د څانګې د آمر پیغام

په اوسني عصر کې د بشري ژوند د اسانتیا، پرمختګ او ترقۍ لپاره ساینسونه یو بنسټیز او نه انکارېدونکی عامل ګڼل کېږي او کیمیا هم په دې بهیر کې لوړ مقام لري. هر ځای چې د تولید، ابتکار او نوښت خبره وي، د کیمیا نوم پکې ځلېږي.

زموږ هېواد تر بل هر وخت زیات پرمختګ او ترقۍ ته اړتیا لري او ټول باید لاسونه سره یو کړي څو هېواد له اوسني حالت څخه ځان بسیا کېدو ته ورسوي. دا کار له پرلهپسې او صادقانه هڅو پرته ناشونی دی.

د لوګر پوهنتون د کیمیا څانګه د یوه مسلکي مرکز په توګه د متخصصو او نوښتګرو کادرونو روزنه خپله اساسي دنده ګڼي او هڅه کوي داسې کسان وروزي چې نه یوازې د کیمیا په برخه کې، بلکې د ټولنې د علمي اړتیاوو په پوره کولو کې هم اغېزمن وي.

نویو شامل شوو محصلینو ته ښه راغلاست وایم او له تاسو څخه د اکادمیک چاپېریال د ټولو قوانینو او مقرراتو د درناوي او د څانګې د پرمختګ لپاره د هڅې غوښتنه کوم.

**په درنښت**

**نوماند پوهنیار محمد فالح سلطاني**

**د کیمیا څانګې آمر**

## د عنوانونو فهرست

عنوان پاڼې

لومړی څپرکی: عمومی معلومات ........................................................ 1

۱.۱ د پوهنتون پيژندنه ........................................................ 1

۲.۱ د پوهنځي او ديپارټمنټ پېژندنه ........................................................ 1

۳.۱ لرليد (Vision) ........................................................ 3

۴.۱ مأموريت (Mission) ........................................................ 3

۵.۱ ارزښتونه(Objectives) ........................................................ 3

٦.۱ تشکيلاتي جوړښت ........................................................ 4

۷.۱ د علمي کادر غړو احصائيه ........................................................ 5

دوهم څپرکی: عمومي مقررات او لارښوونې ........................................................ 6

۱.۲ د پوهنتون عمومي اصول او ارزښتونه ........................................................ 6

۲.۲ صنفياصول ........................................................ 6

دریم څپرکی: د کردیت لايحه ........................................................ 8

۱.۳ د کرديت سيستم پيژندنه ........................................................ 8

۲.۳ د کرديت سيستم لايحه ........................................................ 8

۳.۳ ارزونې طريقه ........................................................ 9

۴.۳ نصاب ........................................................ 10

څلورم څپرکی: د محصلينو لپاره خدمتونه او فرصتونه ........................................................ 15

۱.۴ لابراتوار ........................................................ 15

۲.۴ شرايط استفاده از لابراتوار ........................................................ 16

۳.۴ کتابخانه و منابع درسی ........................................ 17
۴.۴ انټرنېټي او ډیجیټلي خدمتونه ........................................ 18
۵.۴ اکادمیکه مشوره او علمي خدمتونه ........................................ 18
۶.۴ سفرهای علمی ........................................ 19
پنځم څپرکی: څېړنه او د علمي اثر لیکنه ........................................ 20
۱.۵ د طبیعی مونوگرانوفو عمومی جوربشت ........................................ 20
۲.۵ د طبیعی مونوگرانوفو معنوی جوربشت ........................................ 20
۳.۵ د مونوگراف د عنوان ټاکنه ........................................ 21
۴.۵ د مونوگراف ترتیبول ........................................ 21
۵.۵ د مونوگراف دفاع ........................................ 22
شپږم څپرکی: کاري فرصتونه ........................................ 23
۱.٦ د کېمیا رشتي کاري فرصتونه ........................................ 23
۲.٦ ارتباط محصل با دیپارتمنت بعد از فراغت ........................................ 24
اووم څپرکی: ضمایم ........................................ 26

# لومړی څپرکی: عمومي معلومات

## ۱,۱ د پوهنتون پیژندنه

پوهنتون لوګر په ۱۳۹۳ کال کې خپل اکادمیک فعالیت د کیمیا ـ بیولوژي او ریاضي ـ فزیک له دوو دیپارټمنتونو سره پیل کړ او اوس مهال شپږ پوهنځي لري چې په لاندې ډول دي:

۱ .تعلیم او تربیه: کیمیا، فزیک، ریاضي، بیولوژي، انګلیسي، د کمپیوټر زده کړه او اسلامي علوم او کلتور
۲ .کرنه: اګرانومي او اقتصاد او پراختیا
۳ .شرعیات: فقه او قانون او اسلامي زده کړې
۴ .جیولوجي او کانونه: د کانونو اکتشاف او استخراج
۵.کمپیوټر ساینس: IT and IS
٦.عامه اداره او پالیسي: عامه اداره او عامه پالیسی

دا پوهنتون په هیواد کې له معتبرو نړیوالو بنسټونو څخه دی چې په بېلابېلو څانګو کې د باکیفیته زده کړو د وړاندې کولو په برخه کې فعالیت کوي. د دې پوهنتون موخه په علمي او تخنیکي برخو کې د مسلکي او متخصصو کسانو روزنه او ټولنې ته خدمت کول دي.

## ۱,۲ د پوهنځي او دیپارټمنت پېژندنه

د تعلیم او تربیې پوهنځي د کیمیا او بیولوژي دیپارټمنت د لوړو زده کړو وزارت د ۱۳/۱۲/۱۳۹۲ نېټې د (۵۷۵) ګڼې وړاندیز پر بنسټ او د وخت د حکومت د ۲۰/۲/۱۳۹۳ نېټې د (۱۲۰۰) ګڼې حکم له مخې رامنځته او منظور شو.

په ۱۳۹۳ کال کې شاوخوا (۸۰) تنه محصلین د تعلیم او تربیې پوهنځي دوه‌ګونو څانګو ته معرفي شول. په ۱۳۹۴ کال کې (۱۱۲) تنه محصلین دوه‌ګونو څانګو ته معرفي شول.

په ۱۳۹۵ کال کې د لوګر پوهنتون ریاست د ۸/۴/۱۳۹۴ نېټې د وړاندیز پر بنسټ، موضوع د لوړو زده کړو وزارت د اکادمیکو چارو د انسجام عمومي ریاست په علمي بورد کې تر بحث لاندې ونیول شوه او په دې اړه لاندې پرېکړه وشوه:

»د څلورو بستونو د زیاتېدو او په انکشافي تشکیلاتو کې د هغو د منظورۍ په صورت کې، د وړاندیز شویو دیپارټمنټونو تفکیک تأیید دی او په دې برخه کې لازم اجراآت ترسره شي« .

د ریاضي ـ فزیک او کیمیا ـ بیولوژي دیپارټمنټونه په ریاضي، فزیک، کیمیا او بیولوژي دیپارټمنټونو ووېشل شول چې په همدې کال کې (۲۷۵) تنه محصلین دغو څلورو جلا دیپارټمنټونو ته معرفي شول.

د کیمیا دیپارټمنټ له پیل څخه تر اوسه پورې د کیمیا په برخه کې د نهو دورو د ژمنو او مسلکي فارغانو د روزنې او فراغت ویاړ په خپل علمي کارنامو کې لري.

### ۱,۳ لرلید (Vision)

د ښوونې او روزنې پوهنځي کېميا څانګه هڅه کوي چې د ټولنې او کار بازار علمي او صنعتي اړتیاوو پر بنسټ د نوښتګرو خېړونکو او مسلکي ښوونکو روزلو په برخه کې د هیواد په کچه یو څانګړی مقام ترلاسه کړي.

### ۱,۴ مأموریت (Mission)

د ښوونې او روزنې پوهنځي کېميا څانګه په لازمو مهارتونو، معاصرو درسي میتودونو او ښوونيزې ټکنالوژۍ په اسلامي او ملي روحیه سمبال د ټولنې او کار بازار د علمي او صنعتي اړتیاوو مطابق د نوښتګرو خېړونکو او مسلکي ښوونکو روزل خپل ماموریت ګڼي.

### ۱,۵ ارزښتونه(Objectives)

1. د اسلامي او ملي ارزښتونو درناوی.
2. د فرامینو، رهبري شورى پرېکړو، احکامو، قوانینو او مقرراتو درناوی.
3. دیانت او تقوا.
4. عدالت، تعهد او صداقت.
5. روڼتیا او حساب‌ورکونه.
6. اخلاقي اصولو رعایت
7. د انساني کرامت درناوی.
8. د مسئولیت احساس
9. ابتکار او نوښتګري.
10. ښې علمي نظام داری ته پاملرنه
11. سالم علمي رقابت.
12. کاري مصئونیت.
13. ګډون او همکاري.
14. د فساد او تعصب پر ضد مبارزه.

## ۱,٦ تشکیلاتي جوړښت



## ۱,۷ د علمي کادر غړو احصائیه

| گڼه | نوم | تخلص | پلار نوم | علمی رتبه | تحصیلی کچه | تخصص | د تقرر تاریخ | کاری تجربې | علمی آثار | مقالات | کتنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | صفی الله | نوابی | عبدالجلیل | پوهنیار | ماستر | عضوی کیمیا | ۱۳۹۳/۲/۲۴ | ۱۰ | ۱ | ۴ | |
| ۲ | محمد جاوید | ستانکزی | محمد شریف | پوهنمل | ماستر | تحلیلی کیمیا | ۱۳۹۴/۵/۱۱ | ۹ | ۱ | ۸ | |
| ۳ | عزیز محمد | کاکړ | پاینده محمد | پوهنیار | ماستر | فزیکی کیمیااو د<br>ذراتو علوم | ۱۳۹۷/۱/۱۹ | ۷ | ۱ | ۱۳ | |
| ۴ | سردارولی | ثاقب | احمد نبی | نوماند<br>پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۱۴۰۱/۱۱/۱ | ۲ | ۰ | ۰ | |
| ۵ | محمد فلاح | سلطانی | محمد انور | نوماند<br>پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۱۴۰۲/۱۰/۷ | ۲ | ۰ | ۰ | |
| ۶ | شیرمحمد | حریفال | امیر محمد | نوماند<br>پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۱۴۰۳/۲/۲۷ | ۱ | ۰ | ۰ | |

# دوهم څپرکی: عمومي مقررات او لارښووني

په دې برخه کې هغو تړولو قوانینو او اصولو ته اشاره شوې ده چې هر محصل مکلف دی د پوهنتون او پوهنځي په چاپېریال کې يې رعایت او عملي کړي. که چېرې یو محصل د دغو اصولو او قوانینو خلاف عمل وکړي، نو له قانوني غبرګون سره به مخ شي. دغه قوانین د پوهنځي دننه او بهر د محصل چلند او سلوک بیانوي، او د اغېزمنې زده‌کړې لپاره يې رعایت اړین دی.

## ۲,۱ د پوهنتون عمومي اصول او ارزښتونه

- ✓ د اسلامي او ملي ارزښتونو درناوی
- ✓ د نورو د حقونو درناوی او رعایت
- ✓ د هرې برخې اړوندو اصولو ته پابندي
- ✓ د هویت کارت له ځان سره ګرځول
- ✓ د پوهنتون د چاپېریال د پاکوالي لپاره هڅه کول
- ✓ په پوهنتون کې موجودو تجهیزاتو او زیربناوو ته له زیان رسولو څخه ډډه کول
- ✓ د پوهنتون د اداري کادر د اوامرو اطاعت او درناوی کول

## ۲,۲ صنفياصول

- ✓ د اسلامي اصولو رعایت
- ✓ پر وخت حاضرېدل
- ✓ لومړی کردیت کې حاضري د درس په پیل او دویم کردیت کې د درس په پای کې اخیستل کېږي.
- ✓ له ځان سره د چټل‌نویس لرل (سپارښتنه)
- ✓ د بل استاد د درس پر مهال په پوهنځي کې د بل مضمون له مطالعې څخه ډډه کول
- ✓ د مبایل تلیفون په سایلنټ حالت کې ساتل او له هغه څخه د ځواب ورکولو څخه ډډه کول

- ✓ له ځان سره د درسي موادو راوړل او له اضافي وسایلو له راوړلو څخه ډډه کول
- ✓ د درس په پای کې پوښتنې کول
- ✓ د ټولګي او پوهنتون د پاکوالي په ساتلو کې هڅه کول
- ✓ د نورو له توهین او سپکاوي څخه ډډه کول او له ټولګیوالو او استاد سره متقابل درناوی رعایتول
- ✓ په ګروپي کارونو کې فعال ګډون کول
- ✓ په ټولګي کې له شور او بې ځایه خبرو څخه ډډه کول
- ✓ په ټولګي کې د تدریسي چارو له ګډوډولو څخه ډډه کول
- ✓ کورنۍ دنده ترسره کول او له ځان سره یې راوړل
- ✓ مناسبه ظاهري بڼه ساتل
- ✓ د نظم او ډسپلین اړوند ټولو قوانینو رعایت کول
- ✓ په لابراتوار کې د اړینو اصولو او خوندیتوب تدابیرو رعایت کول

# دریيم څپرکی: د کردیت لایحه

په ډېرو هېوادونو کې د یوه نوي او اغېزمن سیستم په توګه کارول کېږي، چې اساسي او عمده موخه يې د زده‌کړې په بهیر کې د محصل د ونډې او فعالیت زیاتول دي.

## ۳,۱ د کردیت سیستم پیژندنه

یو درسي واحد دی چې پر بنسټ يې د یوې تحصیلي رشتې د اتو سمسترونو نصاب، د هر مضمون ونډه او اړوند مشخصات ټاکل کېږي.
په بل عبارت، کریدیت د یوه مضمون د هغو درسي ساعتونو شمېر دی چې په یوه اوونۍ کې وړاندې کېږي او د هر درسي ساعت موده ۵۰ دقیقې ده.
لومړی مثال: د تجوید مضمون
۱ کریدیت
په اوونۍ کې یو درسي ساعت
دویم مثال: د انګلیسي مضمون
۲ کریدیت
په اوونۍ کې دوه درسي ساعتونه

## ۳,۲ د کردیت سیستم لایحه

۱ .د لیسانس دورې منځنۍ موده حداقل ۴ او حداکثر ٦ کاله ده.
۲ .د لیسانس دورې د بریالیتوب لپاره لږ تر لږه ۱۳٦ او تر ټولو زیات ۱٦۸ کریدیتونه اړین دي.
۳ .د لیسانس دورې د مضامینو ډولونه په لاندې ډول دي:

- اختصاصي مضامین: لږ تر لږه ۵۰ سلنه
- اساسي مضامین: تر ټولو زیات ۳۰ سلنه
- پوهنتون‌شمول او اختیاري مضامین: ۱۲ سلنه
- مونوګراف او د پروژې دفاع: ۸ سلنه

۴ .یو مضمون په یوه ورځ کې له ۲ کریدیتونو څخه زیات نه تدریس کېږي. البته، تطبیقاتي مضامین او ساحوي کارونه له دې حکم څخه مستثنا دي.

۵ .یو مضمون په یوه اوونۍ کې تر ټولو زیات ۵ کریډیټونه لرلی شي.
٦ .په یوه سمستر کې د محصل درسي مکلفیت له ۱۷ څخه تر ۲۱ کریډیټونو پورې دی.
۷ .په امتحان کې د ګډون لپاره د نصاب د ۷۵ سلنې حاضري بشپړول اړین دي. که یو محصل له ۲۵ سلنې څخه زیاته غیرحاضري ولري، محروم ګڼل کېږي او د فاینل امتحان د ګډون حق نه لري.
۸ .په هر مضمون کې د بریالیتوب لپاره لږ تر لږه ۵۵ نمرې اخیستل اړین دي. همدارنګه، په یوه سمستر کې د عمومي اوسط د ٦۰ سلنې بشپړول هم اړین دي. که محصل عمومي اوسط ٦۰ سلنې ته پوره نه کړي، اخطار ورکول کېږي. که محصل دوه پرله‌پسې ځله ٦۰ سلنه عمومي اوسط پوره نه کړي، لیکلی اخطار ورکول کېږي او په جدول نتایجو کې درجېږي. که محصل درې پرله‌پسې ځله ونه شي کولای چې ٦۰ سلنه عمومي اوسط بشپړ کړي، له پوهنتون څخه د تل لپاره اخراجېږي.
۹ .راتلونکي سمستر ته د محصل ارتقا په هغه صورت کې امکان لري چې د هماغه سمستر له نیمايي څخه په زیاتو کریډیټونو کې بریالی شي. یعنې که یو محصل په یوه سمستر کې ۲۰ درسي کریډیټونه ولري، لږ تر لږه باید په ۱۱ کریډیټونو کې بریالی شي، ترڅو راتلونکي سمستر ته ارتقا وکړي.
۱۰ .که یو محصل د یوه سمستر له نیمايي څخه په زیاتو کریډیټونو کې محروم، ناکام یا غیرحاضر شي، سمستر تکرارونکی ګڼل کېږي او باید یو کال وروسته بیا په همدې سمستر کې شامل شي.
۱۱ .په یوه سمستر کې په تر نیمايي څخه زیاتو کریډیټونو کې دوه ځله ناکامي د محصل د تلپاتې اخراج سبب ګرځي.

## ۳,۳ ارزونې طریقه

په کریډیټ سیستم کې د ارزونې طریقې په څلورو عمده برخو وېشل کېږي چې عبارت دي له:

۱۰٪ :په ورځنیو درسونو کې ګډون او حاضري ته پابندي
۱۰٪ :د کورنۍ دندې ترسره کول، د درسي سیمینار ترتیب او وړاندې کول
۲۰٪ :د سمستر منځنۍ ازموینه
٦۰٪ :وروستۍ ازموینه

په پورته یادو شویو ازموینو کې به د څو انتخابي، تطبیقي، لنډ ځواب، محدود تشریحي، تحلیلي او پراخ تشریحي ډولونو پوښتنې شاملې وي، چې د اسانه، منځنۍ، سختې او مفهومي کچې لرونکي به وي.
د ازموینو پایلې به د ازموینې له اخیستلو څخه تر پنځو ورځو پورې د استادانو له خوا اعلانیږي او محصلین کولای شي خپلې نمرې په HEMIS سیستم کې وګوري. که یو محصل د یادې ازموینې له خپلې نمرې څخه قناعت ونه لري، د اعتراض حق لري. د هغه د ازموینې پاڼه به د ازموینو د کمېټې له خوا بیا وکتل شي او د موظفې کمېسیون له لوري به د اعتراض پایله محصل ته ورسول شي؛ په دې توګه به د هېڅ محصل حق ضایع نه شي.

## ۳,۴ نصاب

هغه نصاب چې اوس مهال د هېواد په پوهنتونونو کې تدریس کېږي، په ۱۳۹۸ کال کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا ترتیب او پوهنتونونو ته واستول شو، چې په هغه کې د هر مضمون په اړه عمومي معلومات، ښوونیزې موخې او نور اړوند جزئیات هم ذکر شوي دي.

هر ترتیب شوی نصاب د منظورۍ له نېټې څخه تر پنځو کلونو پورې اعتبار لري. له همدې امله، په ۱۴۰۳ کال کې د لوړو زده کړو وزارت د ټولو رشتو علمي کادرونه راوبلل، ترڅو نوی نصاب تدوین او ترتیب کړي. له نېکه مرغه، د نوي نصاب د تدوین او ترتیب چارې هم بشپړې شوې دي او په نږدې راتلونکي کې به ټولو تحصیلي واحدونو ته واستول شي.

| ګڼه | اول صنف ، اول سمستر | | | ګڼه | اول صنف ، دوم سمستر | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مضمون | کود مضمون | کریډیت | | مضمون | کود مضمون | کریډیت |
| 1 | عمومي کیمیاI | Ed.Ch.01.20 | 3 | 1 | عمومي کیمیاII | Ed.Ch.02.20 | 3 |
| 2 | د عمومي کیمیا I تطبیقات | Ed.Ch.01.21 | 1 | 2 | د عمومي کیمیا II تطبیقات | Ed.Ch.02.21 | 1 |
| 3 | د کیمیا ریاضيI | Ed.Ma.01.20 | 2 | 3 | فقه عبادات | SL. IC 0201 | 2 |
| ۴ | عمومي بیولوژيI | Ed.Bi.01.20 | ۴ | ۴ | عمومي بیولوژیII | Ed.Bi.02.20 | 2 |
| 5 | نظام اعتقادی اسلام | SL. IC 0101 | 2 | 5 | د کیمیا ریاضيII | Ed.Ma.02.20 | 2 |
| 6 | کمپیوترI | Ed.Cs.01.03 | 2 | 6 | کمپیوترII | Ed.Cs.02.03 | 2 |
| 7 | انګلیسيI | Ed.En.01.02 | 2 | 7 | انګلیسيII | Ed.En.02.02 | 2 |
| 8 | عمومي ارواپوهنه | Ps.Gp.01.07 | 2 | 8 | سیرت و تاریخ اسلامی | SL. IC 0201 | 2 |
| 9 | حفظ و تجوید | SL. IC 0101 | 1 | 9 | عمومي فزیکI | Ed.Ph.02.20 | 2 |
| | | | | 10 | انکشافي ارواپوهنه | Ps.Gp.02.07 | 2 |
| | | | | 11 | په لابراتوار کې ایمني شرایط | Ed.Ch.02.22 | 1 |
| مجموع | | | 19 | مجموع | | | 21 |

| شماره | صنف دوم، سمستر سوم | | |
|---|---|---|---|
| | مضمون | کود مضمون | کریدیت |
| 1 | عمومي کیمیاIII | Ed.Ch.03.20 | 3 |
| 2 | د عمومي کیمیا III تطبیقات | Ed.Ch.03.21 | 1 |
| 3 | د کیمیا ریاضيIII | Ed.Ma.03.20 | 2 |
| ۴ | معاصر تاریخ | Ed.Hi.03.05 | 2 |
| 5 | د اسلام اخلاقي نظام | Ed.Is.03.01 | 2 |
| 6 | فزیکII | Ed.Ph.03.20 | 2 |
| 7 | ښوونیزه ارواپوهنه | Ps.Gp.03.09 | 2 |
| 8 | غیر عضوي کیمیاI | Ed.Ch.03.23 | 2 |
| 9 | د غیر عضوي کیمیا I تطبیقات | Ed.Ch.03.24 | 1 |
| 10 | چاپیریال ساتنه | Ed.Es.03.04 | 2 |
| 11 | نظام اجتماعی اسلام | SL. IC 0301 | 2 |
| | | | |
| | مجموع | | ۲۱ |

| شماره | صنف دوم، سمستر څلورم | | |
|---|---|---|---|
| | مضمون | کود مضمون | کریدیت |
| 1 | غیر عضوي کیمیاII | Ed.Ch.04.23 | 3 |
| 2 | د غیر عضوي کیمیا II تطبیقات | Ed.Ch.04.24 | 1 |
| 3 | عضوي کیمیاI | Ed.Ch.04.25 | 3 |
| ۴ | د عضوي کیمیا I تطبیقات | Ed.Ch.04.26 | 1 |
| 5 | ادیان | SL. IC 0401 | 1 |
| 6 | د ښوونې او روزنې بنسټونه | Ed.Ps.04.09 | 2 |
| 7 | بدني روزنه | Pd.Pe.04.08 | 2 |
| 8 | کرستل شیمي او تطبیقات یې | Ed.Ch.04.27 | 1 |
| 9 | کیمیاوي تکنالوژی | Ed.Ch.04.28 | 2 |
| 10 | محاسبوی کیمیا 1 | Ed.Ch.04.30 | 2 |
| 11 | تربیه فکری | SL. IC 0401 | 2 |
| ۱۲ | د کمپلکس کیمیا | Ed.Ch.04.29 | 1 |
| | مجموع | | ۲۱ |

| ځ | صنفسوم، سمستر پنجم | | | شماره | صنف سوم، سمستر ششم | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مضمون | کود مضمون | کردیت | | مضمون | کود مضمون | کردیت |
| 1 | غیر عضوي کیمیاIII | Ed.Ch.05.23 | 3 | 1 | عضوي کیمیاIII | Ed.Ch.06.25 | 3 |
| 2 | د غیر عضوي کیمیا III تطبیقات | Ed.Ch.05.24 | 1 | 2 | د عضوي کیمیا III تطبیقات | Ed.Ch.06.26 | 1 |
| 3 | عضوي کیمیاII | Ed.Ch.05.25 | 3 | 3 | طیف ارزونه | Ed.Ch.06.36 | 2 |
| ۴ | د عضوي کیمیا II تطبیقات | Ed.Ch.05.26 | 1 | ۴ | د کیمیا تدریس میتود | Ed.Ch.06.37 | 4 |
| 5 | توصیفي تحلیلي کیمیا | Ed.Ch.05.32 | 3 | 5 | د کیمیا اختصاصي کورس | Ed.Ch.06.38 | 2 |
| 6 | د توصیفي تحلیلي کیمیا تطبیقات | Ed.Ch.05.33 | 1 | 6 | مقداري تحلیلي کیمیا | Ed.Ch.06.39 | 3 |
| 7 | رادیوشیمي | Ed.Ch.05.34 | 1 | 7 | د مقداري تحلیلي کیمیا تطبیقات | Ed.Ch.06.30 | 1 |
| 8 | پولیمیر کیمیا | Ed.Ch.05.31 | 1 | 8 | نبوونیزه ارزونه | Ed.Ch.06.10 | 2 |
| 9 | نظام اداری اسلام | SL. IC 0501 | 2 | 9 | د اسلام اقتصادي نظام | SL. IC 0601 | 2 |
| 10 | محاسبوي کیمیاII | Ed.Ch.05.30 | 2 | 10 | | | |
| 11 | د اسلام سیاسي نظام | Ed.Is.05.01 | 2 | 11 | | | |
| 12 | د چاپیریال ساتنه کیمیا | Ed.Ch.05.35 | 1 | 12 | | | |
| | مجموع | | 21 | | مجموع | | 20 |

| شماره | صنفچهارم، سمستر هفتم | | |
|---|---|---|---|
| | مضمون | کود مضمون | کردیت |
| 1 | تدریس زده کړه | Pe.Ed.07.12 | ۴ |
| 2 | فزيكي كيمياI | Ed.Ch.07.۴1 | 3 |
| 3 | د فزيكي كيميا I تطبيقات | Ed.Ch.07.۴2 | 1 |
| ۴ | بيوشيميI | Ed.Ch.07.۴3 | 2 |
| 5 | د بيوشيمي I تطبيقات | Ed.Ch.07.۴۴ | 1 |
| 6 | د درملو كيميا | Ed.Ch.07.۴5 | 2 |
| 7 | د خوراكي موادو كيميا | Ed.Ch.07.۴6 | 2 |
| 8 | ښوونيز مديريت | Pe.Em.07.11 | 2 |
| 9 | د تحقيق كړنلارې | Ed.Ch.07.47 | 2 |
| 10 | قران و علوم معاصر | Ed.Is.07.01 | 2 |
| 11 | | | |
| | مجموع | | 21 |

| شماره | صنف چهارم، سمستر هشتم | | |
|---|---|---|---|
| | مضمون | کود مضمون | کردیت |
| 1 | فزيكي كيمياII | Ed.Ch.08.۴1 | 3 |
| 2 | د فزيكي كيميا II تطبيقات | Ed.Ch.08.۴2 | 1 |
| 3 | بيوشيميII | Ed.Ch.08.۴3 | 3 |
| ۴ | د بيوشيمي II تطبيقات | Ed.Ch.08.۴۴ | 1 |
| 5 | مونوگراف | Ed.Ch.08.۴8 | ۴ |
| 6 | كلوييدي كيميا او تطبيقات يې | Ed.Ch.08.۴9 | 2 |
| 7 | نانو كيميا | Ed.Ch.08.50 | 2 |
| 8 | كاربردي تكنالوژي | Ed.Ch.08.51 | 2 |
| 9 | اسلامي تمدن | Ed.Is.08.01 | 2 |
| 10 | | | |
| 11 | | | |
| | مجموع | | 20 |

## څلورم څپرکی: د محصلینو لپاره خدمتونه او فرصتونه

خدمتونه او فرصتونه د یوه تحصیلي بنسټ له اساسي برخو څخه دي، چې د ټولنې د ځوانانو د استعدادونو د ودې لپاره د ملا تیر حیثیت لري او په اوسنۍ زمانه کې د ټولنې د ستونزو د حل لپاره یوه جدي اړتیا ګڼل کېږي.

### ۴,۱ لابراتوار

د کیمیا دیپارټمنت لابراتوار په ۱۳۹۸ کال کې د نړیوال بانک په مالي مرسته جوړ او اړین مواد ورته برابر شول، چې محصلین او استادان یې د عملي تجربو لپاره کاروي. همدارنګه، په ۱۴۰۴ کال کې د لوړو زده کړو محترم وزارت له خوا نوي مواد او اړین وسایل هم ورته پېرل شوي دي. د کیمیا دیپارټمنت په لابراتوار کې د فریزر، سنټریفیوژ، مایکروویو، تنور، تقطیر دستګاه او نورو اړینو وسایلو ترڅنګ، بېلابېل کیمیاوي مواد هم موجود دي، چې له ډلې یې تیزابونه، قلوي مواد، اکسایډونه، مالګې، خالص فلزات، غیرفلزات او الکولونه یادولی شو. محصلین او استادان کولای شي له دغو وسایلو او موادو څخه د بېلابېلو مضامینو په عملي درسونو کې ګټه واخلي.



## ۴,۲ شرایط استفاده از لابراتوار

لابراتوار د کیمیاوي تجربو د ترسره کولو ځای دی؛ له همدې امله په طبیعي ډول د پېښو او ناڅاپي حوادثو د رامنځته کېدو امکان پکې شته. په لابراتوار کې د امنیت، نظم او د افرادو د خوندیتوب د ساتنې لپاره ځینې اصول او مقررات موجود دي چې ټول محصلین او د لابراتوار تخنیکر (لابرانت) یې رعایتولو ته مکلف دي. په لاندې ډول یې مهم موارد ذکر شوي دي:

۱ .لابراتوار ته د ننوتلو پر مهال د ځانګړو جامو (سپین چپن، ماسک، نقاب، دستکشو او عینکو) اغوستل.
۲ .په لابراتوار کې له خوړلو او څښلو څخه ډډه کول.
۳ .په لابراتوار کې د نظم او پاکوالي رعایتول.
۴ .سترګو، پوزې او خولې ته له لاس لګولو څخه ډډه کول.
۵ .لابراتوار ته له بوټونو سره ننوتل.
٦ .په لابراتوار کې له سګرټ څکولو څخه ډډه کول.
۷ .د کارېدونکو موادو د لېبلونو له استعمال څخه مخکې په دقت سره کتل.
۸ .له پلاستیکي وسایلو څخه د تودوخې ورکولو لپاره کار نه اخیستل؛ د تودوخې ورکولو پر مهال له ځانګړو پایرکس وسایلو څخه استفاده کول.
۹ .د هر محلول لپاره له جلا ځاځکي څکوونکي څخه استفاده کول.
۱۰ .له استعمال شویو موادو څخه د هغوی په اصلي بوتل کې د بېرته اچولو څخه ډډه کول.
۱۱ .په سینک کې له نه‌حل کېدونکو موادو له اچولو څخه ډډه کول.
۱۲ .د موادو د تودوخې ورکولو پر مهال له پایرکس وسایلو او نه‌سوځېدونکې جالۍ څخه استفاده کول.
۱۳ .د لوړې تودوخې لپاره له کاشي یا سرامیکي وسایلو څخه استفاده کول.
۱۴ .د کیمیاوي موادو د زهریت او سمیت په اړه د لومړنیو معلوماتو لرل.
۱۵ .له موادو څخه له مستقیم بوی اخیستلو څخه ډډه کول؛ د اړتیا پر مهال باید لوښی له ځانه لرې ونیول شي او بوی یې د لاس په وسیله په احتیاط سره د پوزې لورې ته راوستل شي.

۱۶ .د کیمیاوي موادو، په ځانګړي ډول د فرّار موادو، د لوښو او بوتلونو سرپوشونه ژر تړل.
۱۷ .د هغو تجربو لپاره چې زهري ګازات تولیدوي، له فومکابینې څخه استفاده کول.
۱۸ .له هغو زهري موادو سره له تماس څخه ډډه کول چې د پوستکي له لارې جذبېږي.
۱۹ .له اور لمبې څخه د اور اخیستونکو موادو لرې ساتل.
۲۰ .اور اخیستونکي مواد په سرخلاصو لوښو کې نه تودول.
۲۱ .د تودوخې د سرچینې په نږدېوالي کې له یوه لوښي څخه بل لوښي ته د اور اخیستونکو موادو له انتقال څخه ډډه کول.
۲۲ .د اګزوترمیکو تجربو د ترسره کولو پر مهال د سړو اوبو حمام چمتو ساتل او د تجربې د کنټرول څخه د وتلو په صورت کې ترې استفاده کول.
۲۳ .د اور وژنې د کپسول د ځای معلومول او د هغه د کارولو په طریقه پوهېدل.
۲۴ .له هرې تجربې وروسته د لابراتوار مېز او کارول شوي وسایل پاکول.
۲۵ .له تجربې وروسته د لابراتوار مواد او لوښي په خپل اصلي ځای کې ایښودل.
۲۶ .له لابراتوار څخه له وتلو وروسته لاسونه او مخ په صابون مینځل.

## ۴,۳ کتابخانه و منابع درسی

دیپارټمنت کیمیا د استادانو او محصلینو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د خپل نصاب شاوخوا ۸۰ سلنه درسي سرچینې له ایران څخه پېرلې دي، چې د کورنیو او بهرنیو مؤلفینو له خوا لیکل شوې دي. محصلین کولای شي د اړتیا پر مهال خپل د اړتیا وړ کتاب ترلاسه کړي او له استفادې وروسته یې بېرته آمریت ته وسپاري.
د تعلیم او تربیې پوهنځي د ریاست په بلاک کې یوه پراخه او غني کتابتون هم موجود دی، چې د بېلابېلو برخو اړوند کتابونه پکې شته. محصلین کولای شي هره ورځ د سهار له ۸ بجو څخه د مازدیګر تر ۴ بجو پورې له دې کتابتون څخه ګټه واخلي.
همدارنګه، د لوګر پوهنتون عمومي کتابتون چې د کرنې پوهنځي په بلاک کې موقعیت لري، د هېواد د ټولنې له عقیدې او فرهنګ سره برابر د کورنیو او بهرنیو سرچینو او مؤلفینو کتابونه لري. محصلین کولای شي هره ورځ له موجودو مطالعاتي خونو څخه ګټه واخلي او په ارام او مناسب چاپېریال کې مطالعه وکړي. د اړتیا په صورت کې، محصلین کولای

شي د ثبت او د استفادې د مودې له ټاکلو وروسته، کتاب له کتابتون څخه په امانت واخلي او د ټاکلې مودې له پای ته رسېدو مخکې یې بېرته د کتابتون مدیریت ته وسپاري.

## ۴,۴ انټرنېټي او ډیجیټلي خدمتونه

پوهنتون لوګر د شاوخوا ۳۰ مېګابایټه سرعت لرونکی فایبر نوري انټرنېټ لري، چې په ټولو ټولګیو کې ځانګړي سویچونه ورته نصب شوي دي او محصلین کولای شي د ځانګړي کېبل له لارې په خپلو لپټاپونو کې له دې اسانتیا څخه ګټه واخلي. همدارنګه، د غرمې له ۱۲ بجو څخه د ماسپښین تر ۱ بجې پورې د محصلینو لپاره وای‌فای انټرنېټ هم د استفادې وړ وي، چې کولای شي د درسي موادو د ډاونلوډولو او د درسي برخو لپاره د اړینو موادو د برابرولو په موخه ترې ګټه واخلي.
د یادونې وړ ده چې پوهنتون لوګر یو عمومي کمپیوټر لابراتوار هم لري چې شاوخوا ۴۰ نوي کمپیوټرونه پکې موجود دي او انټرنېټ ورسره وصل دی. محصلین کولای شي په دې لابراتوار کې خپل ځینې درسي مضامین په عملي ډول زده کړي.

## ۴,۵ اکاډمیکه مشوره او علمي خدمتونه

د ستونزو د حل او له منځه وړلو په موخه، د هر ټولګي لپاره د اړتیا له مخې د دیپارټمنت په شورا کې یو تن استاد د استاد لارښود په توګه ټاکل کېږي. استاد لارښود د مهالوېش له مخې هره میاشت له خپل ټولګي له محصلینو سره یوه غونډه جوړوي. په دې غونډه کې محصلین خپلې ټولې ستونزې، اړتیاوې، نظریات او وړاندیزونه له استاد لارښود سره په یوه د باور په فضا کې شریکوي. استاد لارښود تر خپلې وسې د هغوی د ستونزو د حل لپاره هڅه کوي او د اړتیا په صورت کې موضوع له د دیپارټمنت له آمریت سره هم شریکوي. البته، له محصلینو سره په میاشتنیو غونډو کې د استاد لارښود اساسي تمرکز پر لاندې برخو وي:
لومړۍ برخه: علمي او اکاډمیکې چارې؛
دویمه برخه: نظم او ډسپلین؛
درېیمه برخه: د کتابتون، خېړونو او کمپیوټر لابراتوار په اړه؛

دا مشوره یوازې تر ټولګي پورې محدوده نه ده؛ استادان تل هڅه کوي چې د محصلینو په ټولو برخو کې، لکه درسي ستونزې، د مونوګراف د موضوع ټاکنه، رواني ستونزې او د هغوی پر وړاندې شته خنډونه، په اړه په خپل وخت لازم اقدامات ترسره کړي.

### ۴,٦ سفرهای علمی

د درسي مضامینو د نظري او عملي برخو ترمنځ د اړیکې د لا ښه ټینګښت په موخه، د کیمیا دیپارټمنت او لوګر پوهنتون تل هڅه کړې چې تر خپلې وسې د محصلینو لپاره د علمي سیرونو د ترسره کولو اړین امکانات او زمینه برابره کړي، ترڅو محصلین د دغو علمي سفرونو له لارې وکولای شي د خپلو درسي مضامینو اړیکه له ټولنې سره د کار له بازار او په ورځني ژوند کې د کیمیا د علم له کاروني سره لا ښه او په پراخه توګه درک کړي او په نړدې ډول د ننني ټولنې په ژوند کې د کیمیا د علم پراختیا او پراخې کاروني شاهدان واوسي.

# پنځم څپرکی: څېړنه او د علمي اثر لیکنه

د اتو سمسترونو د درسي دورې له بشپړېدو وروسته، محصل مکلف دی چې د یوې مشخصې موضوع په اړه د تاکل شوي چوکاټ له مخې څېړنه ترسره او له هغې څخه دفاع وکړي. د دې څېړنې موضوع د لارښود استاد په مشوره او ملاتړ ټاکل کېږي، او غوره ده چې د اووم سمستر په پیل کې موضوع مشخصه شي او محصل یې د اتم سمستر د فاینل ازموینو له پای ته رسېدو مخکې بشپړه کړي.

د مونوګراف د موضوع د ټاکلو او د هغه د ترتیب لپاره د لوړو زده کړو محترم وزارت له خوا اصول او لارښودونه تدوین شوي او د ټولو محصلینو په واک کې ورکړل شوي دي، چې مهم ټکي یې په لاندې برخه کې بیانېږي.

## ۵,۱ د طبیعی مونوګرافونو عمومی جوړښت

دغه جوړښت باید شپږ فصلونه ولري:

سرلیک، لنډیز (۲۵۰ تر ۴۵۰ کلمو پورې او کلیدي کلمې ۴ تر ۷ کلمو پورې)

۱ .لومړی فصل: سریزه (سرلیک، د ستونزې بیان، د څېړنې اهمیت، موخې او د څېړنې پوښتنې)

۲ .دویم فصل: د تېرو سرچینو او څېړنو د مخینې بیاکتنه

۳ .دریيم فصل: مواد او د کار طریقه

۴ .څلورم فصل: د څېړنې پایلې

۵ .پنځم فصل: بحث

٦ .شپږم فصل: پایله، وړاندیزونه او مأخذونه

## ۵,۲ د طبیعی مونوګرافونو معنوی جوړښت

د مونوګراف ټاکل شوې موضوعګانې باید د محتوا له پلوه لاندې شرایط ولري:

۱ .عنوان باید په تېرو ۵ کلونو کې تکرار شوی نه وي.

۲ .د محصل له تحصیلي رشتې سره سمون ولري.

۳ .عنوان باید د څېړنې وړ وي.

۴ .لنډ، واضح او عام‌فهم وي.

۵ .د پام رااړولو وړ وي.
٦ .شاعرانه، عاطفي او تخیلي بڼه ونه لري.
٧ .د خبري جملې یا پوښتنې په بڼه نه وي.
٨ .عنوان باید د مونوګراف د داخلي عنوانونو فرعي برخه نه وي.
٩ .په عنوان کې ابتکار او نوښت موجود وي.

## ۵,۳ د مونوګراف د عنوان ټاکنه

د مونوګراف د عنوان د تصویب پر مهال لاندې موارد مهم دي:
١ .عنوانونه باید د محصل د وړتیا او علاقې پر بنسټ ووېشل شي.
٢ .عنوانونه باید په مناسب وخت کې، یعنې د شپږم سمستر له پای ته رسېدو وروسته، وټاکل شي.
٣ .عنوانونه باید نوي او د اوسنی زماني له اړتیاوو سره سم وي.
۴ .عنوانونه باید ډېر پراخ نه وي.
۵ .د څېړنې موخه باید د لاسرسي وړ وي.
٦ .د عنوان لپاره باید تأیید شوی پروپوزل موجود وي.
٧ .موضوع باید د پوهنځي او د څېړنې د معاونیت په ډیټابیس کې ثبت شي.
هر محصل کولای شي یوازې یو ځل او د ځانګړو شرایطو له مخې د خپل مونوګراف موضوع بدله کړي. دغه بدلون باید د استاد لارښود او د پوهنځي د څېړنې کمېټې له خوا د منطقي دلایلو پر بنسټ تأیید شي.
د یادونې وړ ده چې د موضوع بدلون د اووم سمستر تر نیمایي پورې ترسره کېدای شي.

## ۵,۴ د مونوګراف ترتیبول

د مونوګراف د موضوع له تأیید وروسته، محصل باید د لاندې موارد وو په پام کې نیولو سره د مونوګراف په لیکلو پیل وکړي:
١ .اصلي متن :لږ تر لږه ۱۰،۰۰۰ کلمې (د لومړنیو پاڼو او سرچینو له شمېر پرته).
٢ .ژبه :رسمي ژبه.
٣ .میاشتني راپورونه :خپل میاشتني راپورونه له استاد لارښود سره شریکول.

۴ .ترتیب :د نوي لارښود له مخې ترتیب شي.
۵ .اصلي پاڼې :لږ تر لږه ۴۰ پاڼې.
٦ .ترتیب او پاڼه شمېره :د پاڼو سم ترتیب او پرله‌پسې شمېره کول.
٧ .د سرلیکونو فونټ Bahij Titr :، Bold، په ۱۴ او ١٦ کچه.
٨ .د مونوګراف متن B Nazanin :، B Mitra یا Bahij Zar فونټ، په ۱۲ کچه، د کرښو ترمنځ واټن ۱,۰ او متن د Low Justify په بڼه تنظیم شي.
٩ .د جدولونو سرلیکونه :د B Nazanin ، B Mitra یا Bahij Zar فونټ، په ۱۲ کچه.
۱۰ .د جدولونو دننه متن :د B Nazanin ، B Mitra یا Bahij Zar فونټ، په ۱۰ کچه.
۱۱ .د شکلونو تشریح او پرله‌پسې شمېره :د شکل په لاندې برخه کې، په منځ کې، د B Nazanin، B Mitra یا Bahij Zar فونټ په ۱۰ کچه ولیکل شي.
۱۲ .د مونوګراف اندازه :مونوګراف باید د وزیري په اندازه ترتیب شي.
۱۳ .د سرلیک پاڼه او بسم‌الله :شمېره ونه لري.
۱۴ .د پاڼو شمېره کول :د فهرست مطالب له پاڼې څخه تر لومړي فصل پورې پاڼې د ابجد په تورو او له لومړي فصل څخه وروسته پاتې پاڼې په عددي بڼه شمېره شي.

## ۵,۵ د مونوګراف دفاع

د مونوګراف د دفاع د وړاندې کولو لپاره باید لاندې موارد په پام کې ونیول شي:
۱ .د ډیپارټمنټ د آمر، استاد لارښود او د ژوري پلاوي حضور.
۲ .د وړاندې کولو وخت :۲۰ دقیقې.
۳ .د پوښتنو د ځوابولو وخت :۱۰ دقیقې.
۴ .د دفاع پر مهال د مونوګراف د یوې کاپي موجودیت.
۵ .د دفاع پر مهال د وړاندې شویو نظرونو او سپارښتنو له مخې د مونوګراف اصلاح.

# شپږم څپرکی: کاري فرصتونه

## ٦,١ د کیمیا رشتي کاري فرصتونه

له هغو فکرونو څخه چې محصلین یې تل له ځان سره لري، یو دا دی چې د خپلې تحصیلي دورې له بشپړېدو وروسته به په کوم داسې مسلک کې دنده ترسره کړي چې له خپلې تحصیلي رشتې سره سمون او تناسب ولري. ډېرى محصلین له لومړي سمستر څخه تر وروستي سمستر پورې تل له ځان سره دا پوښتنه لري چې راتلونکی کاري مسیر به یې څه ډول وي؟

کیمیا په اوسنی زمانه کې له هغو پراخو او ډېر کارېدونکو رشتو څخه ده چې د کار پراخه ساحه لري او د یوه هېواد په پرمختګ او وده کې اساسي رول لوبوي. په مخ پر ودې هېوادونو او د افغانستان په څېر هېوادونو کې د دې ډول رشتو اغېز د نورو هېوادونو په پرتله لا ډېر څرګندیږي.

په ټوله کې، د کیمیا د رشتې کاري فرصتونه په لاندې ډول دي:

١ .د پوهنتونونو په علمي کادر کې ګمارېدل
٢ .په علومو اکاډمۍ کې ګمارېدل
٣ .په ښوونکي روزني مرکزونو کې ګمارېدل
۴ .د څېړنې، تألیف او ژباړې په ریاست کې د مسلکي غړي په توګه دنده
۵ .د تحصیلي نصاب په برخه کې د مسلکي غړي په توګه دنده
٦ .د لوړو زده کړو په وزارت کې د مسلکي سلاکار په توګه دنده
٧ .په خصوصي او دولتي ښوونځیو کې د آمر، سرمعلم او مسلکي ښوونکي په توګه دنده
٨ .په خصوصي او دولتي ښوونځیو کې د تدریسي مرستیال په توګه دنده
٩ .د کانکور د چمتووالي په کورسونو کې د مسلکي استاد په توګه دنده
١٠ .د تعلیمي نصاب په برخه کې د مسلکي غړي په توګه دنده
١١ .د پوهنې په وزارت کې د مسلکي سلاکار په توګه دنده
١٢ .په ټولو تولیدي فابریکو کې د کیفیت د کنټرول (QC) د مسؤول په توګه دنده
١٣ .په ټولو تولیدي فابریکو کې د مسلکي غړي په توګه دنده
١۴ .د کانونو او پټرولیم په وزارت کې د مسلکي کارپوه په توګه دنده

۱۵ .د عامې روغتیا په وزارت کې د مسلکي کارپوه په توګه دنده
۱٦ .د کورنیو چارو او دفاع په وزارتونو کې د مسلکي کارپوه په توګه دنده
۱۷ .د کرنې او اوبولګولو په وزارت کې د مسلکي کارپوه او غړي په توګه دنده
۱۸ .په علمي مرکزونو کې د مسلکي کارپوه او غړي په توګه دنده
۱۹ .د ملي نورمونو او سټنډرډ اداري کې د مسلکي کارپوه او غړي په توګه دنده
۲۰ .د ملي ګمرکونو اداري کې د مسلکي کارپوه او غړي په توګه دنده
۲۱ .د ملي ګمرکونو اداري کې د مسلکي لابرانت په توګه دنده
۲۲ .د ملي اټومي انرژۍ اداري کې د مسلکي کارپوه په توګه دنده
۲۳ .د ملي اټومي انرژۍ اداري کې د څېړونکي او لابرانت په توګه دنده
۲۴ .د ملي ازموینو اداري کې د مسلکي غړي په توګه دنده
۲۵ .د ملي ازموینو اداري کې د مسلکي کارپوه په توګه دنده
۲٦ .د چاپېريال ساتنې په اداره کې د مسلکي کارپوه په توګه دنده
۲۷ .د لوړو زده کړو او پوهنې په وزارتونو کې د مسلکي روزونکي (ټرېنر) په توګه دنده
۲۸ .د خوړو او درملو په معینیت کې د مسلکي کارپوه او غړي په توګه دنده
۲۹ .په ټولو اړوندو برخو کې د اداري کارکوونکي په توګه دنده
۳۰ .د موادو د ازموینې او تشخیص په لابراتوارونو کې د مسلکي لابرانت په توګه دنده
۳۱ .د روغتیايي موادو د تولید په فابریکو کې د مسلکي غړي په توګه دنده
۳۲ .په پتروشیمي صنایعو کې د مسلکي غړي په توګه دنده

## ٦,۲ ارتباط محصل با دیپارتمنت بعد از فراغت

د دفاع له بشپړېدو وروسته، محصل باید د لیلیې له مدیریت، عمومي او فرعي کتابتونونو له مدیریتونو او په پای کې له دیپارتمنت څخه د عدم مسؤولیت فورم په بشپړولو سره، د خپلو تحصیلي اسنادو (ډیپلوم او ټرانسکرېپټ) د ترلاسه کولو لپاره اقدام وکړي. دغه اسناد د ۱۰۰۰ افغانیو په بدل کې محصل ته سپارل کېږي او یاد مبلغ د افغانستان بانک په یوه مشخص حساب کې تحویلیږي.
د پوهنځي او پوهنتون له ریاستونو څخه د اسنادو د مراحلو له بشپړېدو وروسته، د وروستي تأیید لپاره باید اسناد د لوړو زده کړو وزارت ته وسپارل شي. د یادې اداري له

تأیید وروسته، محصل کولای شي له خپلو تحصیلي اسنادو څخه له مادي او معنوي امتیازونو څخه ګټه واخلي.

له فراغت وروسته، د کیمیا دیپارتمنت تل هڅه کوي چې له خپلو محصلینو سره خپلې اړیکې وساتي او په اړوندو برخو کې د فارغو شویو محصلینو له نظریاتو او وړاندیزونو څخه د دیپارتمنت د درسي او اداري چارو د ښه والي او د موجودو نیمګړتیاوو د حل لپاره ګټه واخلي. د دې چارې د اسانتیا لپاره، د فارغانو لپاره د واټساپ یو چینل هم جوړ شوی دی، چې هغوی کولای شي د خپلو او د دیپارتمنت د وروستیو پرمختګونو په اړه د معلوماتو د شریکولو لپاره ترې استفاده وکړي.

# اووم څپرکی: ضمایم

پوهنځی: دیپارتمنت کیمیا پوهنځی ښوونه او روزنه موسسه تحصیلات عالی لوګر (عمومی کانکور - دویم ظرفیت)

ID محصل: 776 S0

د مکتوب ګڼه او نیټه
نمبر و تاریخ مکتوب

د لوړو زده کړو وزارت
پوهنتون لوګر
دیپارتمنت : کیمیا
فورمه سوانح محصل

| د محصل پیژند او نښې / شهرت و مشخصات محصل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| پیژند / شهرت | | د تذکره معلومات / معلومات تذکره | | د زده کړې معلومات / معلومات تحصیلی | |
| نوم / نام | محمدمنصور | عمومی ګڼه / نمبر عمومی | | د ښوونځی نوم / نام مکتب | برکی راجان |
| کورنی نوم / نام فامیلی | احمدی | ټوک / جلد | 0 | د فراغت کال / سال فراغت | 1403 |
| پلار نوم / نام پدر | احمدجان | پاڼه/ صفحه | 0 | د کانکور کال / سال کانکور | 1404 |
| نیکه نوم / نام پدر کلان | حاجی علی محمد | ثبت ګڼه / شماره ثبت | 0 | کانکور نمره / نمره کانکور | |
| ملیت | افغان | د زیږیدلو کال / سال تولد | 1384/02/11 | د کانکور آی دی / آی دی کانکور | |
| مورنۍ ژبه / زبان مادری | دری | مدنی حالت / حالت مدنی | مجرد | د اړیکې شمیره / شماره تماس | |

| د محصل استوګنه / سکونت محصل | | | | |
|---|---|---|---|---|
| استوګنه / سکونت | ولایت | ولسوالی | کلی / قریه، ناحیه | د کور او کوڅه شمیره / نمبر خانه و کوچه |
| اصلی | لوګر | برکی برک | مجبر | |
| فعلی | لوګر | برکی برک | مجبر | |

| د محصل خپلوان او د هغوی دندې / اقارب محصل و وظایف آنها | | | |
|---|---|---|---|
| خپلوان / اقارب | پیژند / شهرت | دنده او د دندې ځای / وظیفه و محل آن | د اړیکو شمیره / شماره تماس |
| برادر | سید آغا | کارمند دولت | |

زه / من (محمدمنصور) ولد/بنت (احمدجان)
پورتنی فورم کې درج شوی معلومات زما د تذکرې او ارایه شوی معلوماتو پر مطابق دی او د خلاف په صورت کې مسولیت زما پر خپله غاړه ده.
معلومات مندرج فورم فوق مطابق تذکره و معلومات ارایه شده ام بوده و در صورت مغایرت مسولیت بعدی بدوش خویش خواهد بود.

د محصل امضا / امضای محصل

ثبت کوونکی امضا / امضای ثبت کننده

د محصلان د آمر امضا / امضای امر محصلان

نوټ:

## امارت اسلامی افغانستان
## وزارت تحصیلات عالی
## پوهنتون لوگر

# فورم درخواست بدل اعاشه محصل

تاریخ : 

ID :

**شهرت محصل :**

| نام و تخلص | نام پدر | نام پدرکلان | نام مکتب | سال فراغت از مکتب | سال کانکور | نمره کانکور |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | |

**سکونت اصلی و فعلی محصل :**

| سکونت محصل | ادرس | گذر | ولسوالی | ولایت | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| سکونت اصلی | | | | | |
| سکونت فعلی | | | | | |

**معلومات تذکره :**

| نمبر عمومی تذکره | صفحه | جلد | شماره ثبت |
|---|---|---|---|
| | | | |

**محل تعلیمی محصل:**

| درجه | صنف ده | صنف یازده | صنف دوازده |
|---|---|---|---|
| محل | | | |

**جزئیات محصل:**

| | |
|---|---|
| وظیفه | |
| شماره تماس | |
| دارائی | |
| دارائی ولی | |
| دارائی شوهر/خانم | |

**تعهد نامه درخواست شمولیت به لیلیه پوهنتون :**

انچه در فورم درخواست لیلیه ثبت شده صحت دارد. هرگاه میان نوشته من در فورم ثبت دارائی و دیگر اسناد رسمی اختلاف ظاهر گردید خود را سزاوار ، اخراج از لیلیه دانسته و پرداخت همه مصارف لیله را متقبل میشوم. بنآ خواهش میکنم که جهت اعاشه و اباته به مدیریت لیلیه معرفی گردم .

با احترام

امضای محصل

**تصدیق پوهنځی مربوطه از صورت ثبت نام محصل :**

پوهنځی ( تعلیم و تربیه ) دیپارتمنت (  ) از شمولیت محصل فوق الذکر در صنف (اول) سمستر ( اول ) با فیصدی (  ) سال () تصدیق مینماید .

با احترام

امضای مدیر عمومی تدریسی

مهر و امضای رئیس پوهنځی

**فیصله نهایی کمیسون :**

وزارت تحصیلات عالی
پوهنتون لوگر
معاونیت علمي و امور محصلان
پوهنځی تعلیم و تربیه
دیپارتمنت کیمیا

# در خواست تعیین موضوع: پایان نامه دوره لیسانس

**به ریاست محترم پوهنځی تعلیم و تربیه**

اینجانب ---------------- فرزند --------------- محصل سال --------- سمستر ----------- دیپارتمنت (کیمیا) میخواهم که برای ختم دوره تحصیل خویش پایان نامه ترتیب نمایم. بدینوسیله خواهشمندم به آمریت دیپارتمنت مربوطه هدایت فرموده تا در قسمت تعیین موضوع و استاد رهنما بنده را همکاری نموده بعید از لطف تان نخواهد بود. با احترام

اسم محصل: --------- امضاء: ------------ تاریخ: / / ۱۴۰۴ هـ ش

آمریت محترم دیپارتمنت (کیمیا)

در تعیین موضوع و استاد رهنمای محصل مذکور اقدام اصولی نماید. با احترام

رئیس پوهنځی (پوهنمل ابراهیم نوری) امضاء: ------------- تاریخ / / ۱۴۰۴ هـ ش

محترما! موضوع پایان نامه تحت عنوان ------------------------------ به رهنمائی استاد محترم ---------------- تعیین گردید و موضوع پایان نامه به شماره عـــــــــ کتاب ثبت مونوگراف دیپارتمنت ثبت شد. با احترام

اسم آمر دیپارتمنت: ---------------- امضاء: --------------- تاریخ: / / ۱۴۰۴ هـ ش

اینجانب ---------- بحیث استاد رهنما با محصل نامبرده همکاری نموده بدینوسیله موافقه خویش را ابراز میدارم. با احترام

اسم استاد رهنما: -------------- امضاء: ----------------- تاریخ: / / ۱۴۰۴ هـ ش

**پوهنتون لوگر**

**معاونیت علمی و امور محصلان**

**پوهنځی تعلیم و تربیه**

**دیپارتمنت کیمیا**

**فورم نمره دهی برای دفاع مونوگراف**

اسم دفاع کننده مونوگراف :

ولد :

موضوع مونوگراف : زمان دفاع : ۱۰ دقیقه پاسخ به سوالات : ۵ دقیقه مؤرخ / / ۱۴۴۷

| شماره | هیئت ژوری | محتویات ارزیابی | | | | | | | | مجموعه نمرات | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | کیفیت شروع | کیفیت ارائه | استفاده از تکنالوژی | تسلسل عناوین | مناقشه و استنباط | کیفیت اختتام و نتیجه گیری | مدیریت زمان | پاسخ به سوالات | | |
| ۱ | | | | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | | | | | |
| مجموع | | | | | | | | | | | |

**هیئت ژوری :**

-۱

-۲

-۳

**نظریات اصلاحی :**

وزارت تحصیلات عالی

پوهنتون لوگر

معاونیت علمی و امور محصلان

پوهنځی تعلیم و تربیه

دیپارتمنت کیمیا

## ورق تاییدی مونوگراف

مونوگراف هذا تحت عنوان (                    ) که توسط محترم (                    ) ولد (                    )
فارغ التحصیل مقطع لیسانس از رشته‌ی کیمیا پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون لوگر در سال ۱۴۰۴ و با رهنمایی استاد (          )
ترتیب گردیده که بعد از بررسی، مستحق (          ) نمره شناخته شده است.

با احترام

**هیئت ژوری :**

-۱

-۲

-۳

**نظر هیئت ژوری:**

محصل مذکور بعد از ارائه‌ی دفاع مونوگراف خود به تاریخ (                    )، مستحق (          ) نمره شناخته شده که

مجموعه‌ی نمره‌ی مونوگراف ایشان (          ) می باشد.

شماره ثبت موضوع در کتاب مونوگراف های دیپارتمنت کیمیا : (          )

**محل امضای آمر دیپارتمنت**

**تایید و مهر پوهنځی تعلیم و تربیه**

نظر و فیصله‌ی آمریت محترم دیپارتمنت کیمیا تایید است.

**با احترام**

**پوهنمل ابراهیم نوری**

**رئیس پوهنځی تعلیم و تربیه**

وزارت تحصیلات عالی
پوهنتون لوگر
معاونیت علمی و امور محصلان
ریاست پوهنځی تعلیم و تربیه
مدیریت عمومی تدریسی

## فورم عدم مسؤلیت محصلان:

| شماره | مرجع | تصدیق مسؤلیت و عدم مسؤلیت محصلان | امضاء، مهر و تاریخ |
|---|---|---|---|
| 1 | مدیریت عمومی لیلیه | | نام :<br>امضا :<br>تاریخ : |
| 2 | مدیریت عمومی کتاب خانه مرکزی | | نام :<br>امضا :<br>تاریخ : |
| 3 | مدیریت عمومی تکنالوژی معلوماتی و کمپوتر لب | | ام :<br>امضا :<br>تاریخ : |
| 4 | کتاب خانه پوهنځی | | نام :<br>امضا :<br>تاریخ : |
| 5 | دیپارتمنت مربوطه | | نام :<br>امضا :<br>تاریخ : |

لطفاً در مورد مسؤلیت و یا عدم مسؤلیت:

محترم ( ) فرزند ( ) فارغ سال ( ) رشته ( ) بخش ( )

پوهنځی تعلیم و تربیه معلومـــــات ارائه نمـــــائید

با احترام

پوهنمل ابراهیم نوری
رئیس پوهنځی تعلیم و تربیه

Ministry of Higher Education
Logar University
Vice Chancellor of Academic & Students Affairs
Faculty of Education
Department of Chemistry

# Students Guide Book

Prepared by:Te. As. U. M. Kakar - Lecturer &
M. F. Sultani - Head of Chemistry Department

Year: 2025